له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه د انصارو په اړه فرمايلي: «له دوی سره له مؤمن پرته بل څوک محبت نه کوي او له منافق پرته بل څوک له دوی سره دښمني نه کوي، څوک چې له دوی سره مينه وکړي، الله به ورسره مينه وکړي. او څوک چې " له دوی څخه نفرت وکړي، نو الله تعالى به پرې غضب نازل کړي

د البراء رضى الله عنه څخه روايت دى چې: له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې هغه د انصارو په اړه فرمايلي: «له دوی سره له مؤمن پرته بل څوک محبت نه کوي او له منافق پرته بل څوک له دوی سره دښمني نه کوي، څوک چې له دوی سره مينه وکړي، الله به ورسره مينه وکړي. او څوک چې " له دوی څخه نفرت وکړي، نو الله تعالى به پرې غضب نازل کړي».

[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې د مدينې له انصارو سره مينه د کامل ايمان نښه ده. دا د اسلام او پيغمبر صلى الله عليه وسلم په ملاتړ او مسلمانانو ته په پناه ورکولو کې د دوی د مخکښ له امله، او د الله لپاره د دوی مال او ژوند قرباني کول او له دوی څخه کرکه کول د منافقت نښه ده. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل چې: څوک چې له انصارو سره مينه کوي، الله جل جلاله به ورسره مينه وکړي او چا چې له دوی سره دښمني وکړه نو الله جل جلاله به ورسره دښمني وکړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3438